مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد عارف رسولي ۲۰۱۹/۰۶/۲۹

# غازي محمد جانخان مرد میدان، رښتینی ملي رهبر او اتل

## دویمه برخه

### د سردار عبدالرحمن خان انګرېز ته تسلیمي او داخلي استبداد:

انګرېزانو چې له افغانانو په لمړي او دوهم افغان – انګرېز جنګونو کې زیاتي ماتي خوړلي وې او په ملي کچه قیامونه لا روان وو، دی پایلي ته رسېدلي وو چې دوی افغانستان په مستقیمه توګه د خپلو عسکرو په زور نه شي اداره کولای، نو یې پرېکړه وکړه چې داسي یو سردار ومومي چې هم ملک اداره کړي او هم د دوي خبره ومني او باید هغه ته زیات امکانات ورکړي او ملي مبارزین ورباندې وټکوي. تر پلټنو وروسته سردار عبدالرحمن خان همداسي یو کس په لاس ورغی او د ده د خور شاه ببوجاني له لارې یې ورسره د لیکونو استولو اړیکي پیل کړې. د انګرېزانو سیاسي نماینده په کابل کې چې ګریفن نومېده د افغانستان په شمال کې له عبدالرحمن خان سره چې روسانو هم ورته سر ښورولی و او د روسانو په موافقه د روسانو له نظارته راخوشی شوی و، ملاقات وکړ او د زمي په نامه لوظنامه یې ورسره لاسلیک کړه چې له ده یې یو بې واکه مشر جوړ کړ.

عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ ام کال د جولای په ۲۲ مه نېټه په کابل کې په تخت کښناسته. انګرېزانو ښه پېژندلی و، ده نه یوازې د ګندمک نامیمونه معاهده چې یعقوب خان منلي وه ومنله بلکه تر هغو بله بده او ننګینه د ډیورنډ معاهده یې هم ورباندې ورزیاته کړه او د انګرېز په اشاره یې ټول ملي مبارزین له منځه یووړل. عبد الرحمن خان د زړه له کومي ژمنه وکړه او تر پایه ورباندې ژمن پاته شو چې بې له انګرېزه به له بل کوم بهرني قدرت سره اړیکي نه ټینګوي او د ازادۍ د لارې ملي مبارزین به چې انګرېزانو ته یې ماتي ورکړې وې له منځه وړي.

بیا هم ابراهیم عطایي: « انګرېزان په کراره ووتل او امیر عبدالرحمن خان خپله مستبده اداره پیل کړه. **په لومړي سر کې یې هغه مبارزین چې د انګرېز سره جنګېدلي وو لکه جنرال محمد جانخان وردګ، میربچه خان، درویش خان بابا قشقار، ملا مشک عالم او عبدالکریم اندري، حسین علي خان سپه سالار، داود شاه خان، نایب سالار محمد شاه خان غلجایي او داسي نور یې په راز راز وسایلو له منځه یووړل** او پرعامو خلکو یې په داسي بې رحمۍ او استبداد حکومت چالانه کړ چې د خلکو بهیرونه یا د ملکه ووتل یا همدلته ووژل شول. د ده د جاسوسی خطرناکي اداري په شکنجو کې نوښت کاوه، غرغره، په توپ کې الوزول، د اندامونو غوڅول، په جوشو اوبو کې اچول او حتی د پوستونو ایستل پر متهمینو اجرا کېدل».

تاریخ پوهان وایي: امیرعبدالرحمن خان زیات سواد نه درلود، له پوهانو یې ښه نه راتلل، په خپله ټوله ۲۱ کلنه پاچاهي کې یې یو ښوونځی هم جوړ نه کړ او د امیر شیرعلي خان د وخت اصلاحات، رسنۍ، ښوونه او روزنه او نور چې پیل شوی وو ټول یې په ټپه ودرول بلکه په فکري لحاظ ملک زیات شاتګ هم وکړ. امیر عبدالرحمن خان د ګندمک د معاهدې په منلو سره کوېټه انګرېز ته سپارلي وه او انګرېز په ډېره چټکۍ سره ټوله سیمه په ۱۸۸۳ کال کې قبضه کړه او یو کال وروسته یې د کوېټې د اورګاډي د لین په تېرولو پیل وکړ. روسانو هم چې د انګرېز دا عمل ولید نو په مرکزي اسیا کې یې په ورته عمل لاس پورې کړ او مرو چې د افغانستان په قبضه کې وه اشغال یې کړه. د روس او انګرېز سیاستوالو به تل دا ویل چې: « متمدن (!) ملکونه چې په خپل اړخ کې غیر متمدن ګاونډي لري ډېره مشکله به وي چې د قلمرو له پراختیا څخه لاس لنډ کړي.» روښانه ده چې دوی په داسي خبرو خلک غولول او خپل تېري یې توجیه کول.

روسان په دې هم بسنده نه شول هغه مهال چې امیر عبد الرحمن خان د هند د وایسرای سره په راولپنډۍ کې په سیاسي مذاکراتو مصروف و روسانو پنجده ونیوله او دری سوه افغان عسکر او د هغوی افسر یې قتل کړل، لویه فاجعه یې رامنځته کړه، خو د انګرېز ناخواني دا وه چې افغانستان ته یې وعده ورکړې وه چې روسان به نور وړاندي نه راځي، خو کله چې روسانو د پنجده په پل خاتون یرغل وکړ انګرېزان وتښتېدل او حتی د افغاني عسکرو سره یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هیڅ مرسته ونه کړه، افغانان قتل عام شول او چا روسانو ته هیڅ و نه ويل.غبار می نوسد این روش عام سیاست انګلیس بود که در هر جا مردم مبارز و نجیب کشور را بازور پروپاګند، جعل اسناد و افترا و اتهام دربین جامعه بدنام کرده و باز از بین میبردند. (غبار در مسیر تاریخ. ص 658.)

## ۱ـ دولتي او ملي ارشيفونه د تاريخي سرچينو په توګه:

په ډېرو ملکونو او دولتونو د سياستوالو، دولتي چاراواکو، نظامي افسرانو او جنرالانو او نورو دود وي چې د پېښو په هکله ليکنې کوي، خپلو اړوندو ادارو ته راپوروونه او ليکونه استوي، پخوا تېلګرامونه استول کېدل او اوس ورباندې ايميلونه زيات شوي دي چې د ويکي ليکس د ايميلونه نړيوال شهرت لري او معتبر سندونه دي. دا ټول راپوروونه او ليکنې په دولتي او ملي ارشيفونو کې ساتل کېږي. په غربي ملکونو کې دا باب شوی ده چې تر يو ټاکلي وخت وروسته په خپلو ملي ارشيفونو کې دا ليکنې له محرميت څخه راوباسي او عوامو او څېړونکو ته يې وړاندې کوي. لکه: (۱) د افغان – انګريز په دريګونو جګړو کې د انګريزي افسرانو، استخباراتي مامورانو، سياسي نمايندہ ګانو او نورو په لاس ليکل شوي ليکونه، تلګرامونه او راپوروونه، (۲) هغه ليکونه او راپوروونه چې د دوي دښمنانو خپلو ملګرو او خلکو ته استولي او دوی ته د خپلو اجنټانو له لارې په لاس ورغلي، يا يې د دوي د ليک په ځواب کې ليکلي چې اوس د هند په ملي ارشيف کې خوندي ساتل کېږي، (۳) دې کې. جي. بي او د روسيې د نورو پوځي ادارو ارشيفونه د افغان شوروي د جنګ په هکله ليکنې او راپوروونه لري، (۴) هغه ليکونه چې افغانانو يو بل او بهرنيانو ته ليکلي، بهرنيانو (خصوصا انګرېزانو) ته په لاس ورغلي او خپلو مسؤلينو ته يې استولي دي او اوس د هند په ملي ارشيف کې خوندي دی، (۵) بل هغه د خاطراتو کتابونه دي چې چاراواکي، ژورنالستان، سياستوال او پوځي جنرلان يې ليکي لکه په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د قواوو د عمومي قوماندان جنرال بورس ګروموف د افغان شوري د جګړو يادښتونه چې داود جنبش پښتو کړي او زيات شهرت لري، د امريکا د دفاع پخواني وزير رابرټ ګېټس چې يو وخت د سي. آی. اې. رئيس هم و، د يادښتونو (خاطرو) کتاب، د زلمی خليلزاد د استازي کتاب او نور يې زموږ د هېواد په هکله مثالونه دي.
په لمړي ګروپ کې هغه استخباراتي محرم راپوروونه چې د ليکلو په وخت او تر زياتو لسيزو پورې محرم او وروسته بيا د قانون په بنسټ د عوامو لاسرسي ته وړاندې شوي او د زيات اعتبار وړ بلل کېږي. د خاطراتو په کتابونو کې بيا د ليکوال شخصيت، سياسي ليد لوري، د کتاب موخې، د ليکلو وخت، د ليکوال د ملک سياست او ملي ګټې، سياسي کلتور، د بيان د ازادی کچه او نور ټول رول لري. که دا پورته موخذونه ټول د خپل ولسي کلتور او د خلکو په سينو کې يادښتونو د هېواد پالو څېړونکو لخوا وڅېړل شي د هېواد د مهمو او تاريخي پېښو او ملي شخصيتونو په باب زياتو حقايقو ته رسېدای شي.

## غازي محمد جانخان د نويو علمي کره څېړنو په رڼا کې:

اوس پورته موخذونه د هند په ملي ارشيف او يا خپله په لندن کې د انګلستان په ارشيف کې زموږ د زياتو معاصرو مورخينو او څېړونکو پام ځانته ور اړولی دی. زموږ ځينو ليکوالانو او څېړونکو لکه نوميالي څېړونکي، ليکوال او د نوي ډيلي د جواهر لعل نهرو د پوهنتون استاد محترم ډاکټر صاحب عبد الخالق رشيد د پورته ډېرو کره او معتبرو سندونو په رڼا کې د **«غازي محمد جانخان د وينو پر لاره د شهادت تر دمه ځايه»** په نامه يو معتبر څېړنيز اثر او کتاب ليکلی دی. يقين لرو چې د ډاکټر صاحب رشيد دا معتبر تحقيقي اثر به په دې لاره کې نورو سترو علمي څېړنو ته لاره پرانيزي او هيله ده چې زموږ د تاريخ به زياتي تيارې رڼا کړي.
په دې ټولو څېړنو او په ځانګړې توګه د ډاکټر صاحب خالق رشيد په څېړنيز اثر کې د افغان – انګرېز د دوهمې جګړې په کلونو کې هغه تيليګرامونه، راپوروونه چې انګرېزي چاراواکو له افغانستانه د هند انګرېزي حکومت او وايسرای ته استولي او يا هغوی خپلو کسانو ته هدايت ورکړی دی، يا محمد جانخان د افغانستان د مختلفو قومونو مشرانو، غازيانو او ديني عالمانو په نامه ليکلي او د دوی د جاسوسانو په لاس ورغلي، يا يې د انګرېزانو د کوم ليک ځواب ورکړی، امير عبد الرحمن خان خلکو ته استولي، کوم فرمان يې ورکړی او کومه پرېکړه يې کړې، نو له دې ټولو مهمو تاريخي لمړی درجې لاسوندونو خورا مهمي تاريخي پايلې ورنه اخيستل کېدای شي.
همدارنګه، هغه ۷۹ ليکونه چې عبد الرحمن خان مخکې له دې چې کابل ته راشي، مختلفو د نفوذ خاوندو افغانانو ته واستول، يو شمېر دا ليکونه د انګرېز جاسوسانو ته په لاس ورغلل او اوس د هند په ملي ارشيف کې خوندي دي. عبد الرحمن خان يو ليک محمد جانخان وردګ ته هم واستاوه، که څه هم دا ليک د انګرېز جاسوسانو ته په ګوتو ورنغی خو د انګرېزانو په تلګرامونو او راپوروونو کې لکه له غزني څخه د يو انګرېز نظامی افسر ايين سمېټ او په کابل کې د انګرېزانو د سياسي چارو مشر ګريفن د شمال ختيزو ځواکونو قوماندان ستيوارټ ته د ۱۸۸۰ د جون په مياشت کې د عبد الرحمن خان د همدې ليک په هکله چې محمد جانخان وردګ ته يې ليکلی و، وليکل. ګريفن هغه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

سیاسي افسر و چې خپل دولت ته یې ډاډ ورکړی و چې عبدالرحمن خان په خپله ګټه کارولی شي اوده ورسره لیدلي و او د زمي لوظنامه یې د هغه د راتګ په وخت د کابل په شمال کې ورسره لاسلیک کړې وه.
د سردار عبد الرحمن خان دې لیک محمد جانخان وردګ ته ستره هنګامه جوړه کړه او انګریزانو خپلو جاسوسانو ته په ټول افغانستان کې دنده وسپارله چې دا لیک ترلاسه کړي او پوه شي چې عبد الرحمن خان محمد جانخان ته څه ویلي. انګرېزانو وېره درلوده که امیر عبدالرحمن خان د محمد جانخان او ملګرو سره یې لاس یو کړي او د هغوی خبره ومني د دوی کیسه ختمه ده، نو ځکه یې زیاتې هڅې وکړې چې دا لیک تر لاسه کړي او ځان ډاډه کړي چې څه روان دي. دا هم د غازي محمد جانخان د ملي مرکزي رهبریت رول او د استعمار سره نه پخلا کېدونکي دریځ روښانوي.
دا سندونه د نورو تاریخي مسئلو تر څنګ د غازي محمد جانخان په مرکزي او د رهبرۍ په رول، له ښکېلاکګرو سره د ده په نه پخلا کېدونکي دریځ، له ملي مبارزینو، غازیانو او د خدای د لارې او وطن د نجات له رښتینو مجاهدینو لکه ملامشک عالم، میربچه خان کوهدامني، عصمت الله جبار خیل، امین الله خان لوګري، بهرام جبار خیل، محمد سرور خان پرواني، سپه سالار حسین علي خان او نورو زیاتو نورو هزاره مشرانو او په سلګونو نورو سره د یوه تیم په توګه کار کاوه. هزاره مشرانو د ایوب خان په میوندي تحریک کې ښه ونډه لرله او له همدې کبله بیا له ایوب خان سره ایران او هند ته تبعید شول او امیر عبدالرحمان خان هم ورسره ظلمونه وکړل.
دوي ټول د غازي محمد ایوب خان د میوند د فاتح له غورځنګ سره په اړیکه کې وو او غوښتل یې تر څو دغه اصیل غورځنګ د امیر عبدالرحمن خان په ځای بریا ته ورسوي. دا ځکه چې امیر سخت د انګرېز تر اغیزې لاندې وه او هر څه به یې چې ورته ویل هغه به یې منل لکه د ډیورند ناولې کرښه چې د هېواد د خاورې په سینه یې راوکښله. همدا اسناد او د انګرېزانو راپورونه ښیي چې د محمد جانخان ورور د محمد ایوب خان سره د هېواد په غرب کې اوږه په اوږه جنګېده او په هرات کې شهید شو، انګرېزانو داسې وانګېرله چې غازي محمد جانخان هلته شهید شوی، زیاتې خوشالۍ یې کړې وې او بیا خبر شول چې هغه یې ورور و.
**د هند د ملي ارشیف دا اسناد ښیي چې غازي محمد جانخان د افغان انګلیس په دوهمه جګړه کې د ملي مبارزو او جهاد د ثقل مرکز او ملي رهبر، د انګرېز سره نه پخلا کېدونکی مبارز، یو مسلکي پوځي افسر، د هغه وخت د وسلو متخصص، د افغانستان لمړنی مسلکي جنرال، سیاسي ستراتېژیست او پالیسي جوړوونکی، ملي منل شوی شخصیت او رښتیني ملي اتل و. استاد ډاکټر صاحب خالق رشید د همغو اسنادو په استناد لیکي: محمد جانخان وردګ سپېڅلی جهاد کاوه او د قدرت نیولو مینه یې نه لرله.**
محمد جانخان وردګ ته په هغه وخت کې په افغانستان او کابل کې د یوه رښتیني سپه سالار په توګه کتل کېدل او کله چې امیر عبدالرحمن خان کابل ته راغی ورته وراندېز کېده او هغه په ظاهره ورسره سر ښوراوه چې غازي محمد جانخان سپه سالار وټاکي. خو انګرېزانو چې په امیر عبد الرحمن خان پوره تسلط درلود او غازي محمد جانخان وردګ او نور ورته ملي مبارزین یې نشوای زغملای، امیرعبدالرحمن خان هغه خپل سیال او د خپلو شخصي موخو لپاره خنډ باله نو د سپه سالارۍ دنده یې غازي ته نه ورکوله.
انګرېزانو او امیر عبد الرحمن خان ملا تړلې وه چې دا ملي مبارزین بې اغیزې کړي، دسیسې ورته جوړې کړې او په پای کې یې له منځه یوسي. خو تر وروستي ټکي پورې ونه توانېدل چې د غازي محمد جانخان هوډ بدل یا یې بې اغیزې کړي. ډاکټرصاحب خالق رشید لیکي: د هند په ملي ارشیف کې یو مکتوب چې انګریزي جنرال رابرټسس ته ورږسېدلی شته، په هغه کې د یو شمېر مجاهدینو لاسلیکونه هم شته چې ګواکي دوی له انګرېزي حکومت سره د دوستۍ او مرستې لیوال دي. په دغو لاسلیکونو کې چا د محمد جانخان لاسلیک هم له ځانه کړی و، کله چې رابرټسس ته دغه لیک لوستل کېږي هغه د محمد جانخان ترلاسلیک دایره راکاږي او لندن ته لیکي چې: ***«نور لاسلیکونه اصلي دي خو یوازې د محمد جانخان او ملامشک عالم لاسلیکونه د دوی خپل نه دي، ځکه هغوی له انګرېزانو سره هېڅ ډول جوړجاړي ته نه حاضرېږي»***. مورخین وایي چې غازي محمد جانخان د کلیمې په رښتیني مانا د ازادۍ د لارې یو رښتیني ملي اتل و. د ده په شخصیت کې د ملي کرکټر یوه لویې او د هغې ښه داوه چې د پردیو په وسلو او پیسو باندې ونه ویارېده او تل یې ویاړ په خپلو خلکو و. ډاکټر خالق رشید لیکي: ده د غازي محمد جانخان په اړه زیاتې لیکنې لوستې د محمد جانخان تر ټولو لوړ امتیاز دادی چې نه یوازې افغانانو په یوه خوله ټولو د ده د ځان تېرېدنه، مبارزه، ایمان پالنه، او نه تسلمیدونکې روحیه ستایلې بلکه د ده دښمنانو هم د ده په خطرناکې او نه ستړې کېدونکې مبارزه باندې اعتراف کړی دی. داسې کره وړه د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې چې انګرېزان په اسیا کې پوره مسلط او حاکم وو، ډېر لږ تر سترګو کېږي.
**دا په هغه وخت کې ډېره نادره خبره وه چې انګرېزانو په خپله د ده په اړه دا خبره کړې چې دی د ۱۸۷۹ ام کال د ملي پاڅون په ترڅ کې هغه څوک و چې د افغانستان د خلکو مشري او لار ښوونه یې په تېره بیا د مقاومت او سیاست په ډګر کې په خپله کوله او دی یې لاربنود و، په دغه ترڅ کې د هند بریتانوي وایسرای یو تلګرام لندن ته په دغه متن استولی دی:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

« د رابرتسس دسامبر د ۱۷-۱۶ نېټې د راپور له مخې: چې هغه اوس له شېرپور څخه په دفاع اخته دی، دښمنانو د غرونو لوړې څوکې نیولې دي، خو له هغو د راکوزېدو توان نه لري، زموږ د سپرو ګزمې یوې او بلې خواته ګرزي. هغه اوس د ګورکه وو (د انګرېز اجیر پوځ د هند له نیمې وچې) یرغل ته سترګې په لاره دی چې د هغو په ترڅ کې به وکولای شي دا لوړ سنګرونه هم له دښمن څخه ترلاسه کړي. په ۱۴ د دسامبر زموږ د مړو شمېر اتلس تنه او د ټپیانو ۹۹ وو، چې اته یې تر اوسه پورې مړه شوي دي، په زخمیانو کې یو مجر کوک دی، ګورکه ګان خپلې دندې په ښه توګه سرته رسوي، دښمن ته درونډ تاوان رسېدلی، د تګاو عثمان خان او یوشمېر نور مشران په دغه جګړه کې مړه شوي، په ۱۷ نېټه دښمن د سیاسنګ لوړې هم ونېولې خو زربې له لاسه ورکړې. په دغه ترڅ کې یوازې یو تن ټپي شو، د دښمن شمېر مخ په کمېدو دی، **محمد جانخان وردګ اوسني رښتیاني مشر د امیرزوي موسی خان یې د امیر په توګه اعلان کړی دی»**. ( دهند ملي ارشیف، بهرنۍ څانګه تلګرام، (۷۱)، د ۱۸۷۹ کال د ډسامبر ۲۳).

دلته د غازي محمد جانخان هغه لیک چې د ده اتلولي، مرکزي رهبري او تاریخي کارنامو یوه ښه بېلګه ښیي او ده په ۱۸۸۰ کال د جون په دریمه د مرکزي افغانستان د میدان وردګو د یو شمېر مشرانو په نامه لیکلی و د هند په ملي ارشیف کې خوندي دی، او د لمړي ځل لپاره ډاکټر خالق رشید په خپل پورته یاد کتاب کې کړی کټ و مټ رانقل کړی دی. په دغه لیک کې د ازادۍ د لارې دغه اتل موږ ته راپېژني، دا لیک روښانوي چې هغه د هېواد د خپلواکۍ پرته بله هېله نه لرله، خو په خواشینۍ سره د دغه ستر انسان سره بیا څه نامردانه نادودې وشوې. دا لیک او نور ورته اسناد د ده په وړاندې د انګرېزانو او امیر عبدالرحمن خان د دسیسو، طرحو او ناکردو ښه ځواب دی. لیک دادی:«

**له سلامونو او درناویو وروسته!**

لکه چې څرګنده ده ستاسې کوم لیک چې د امرالدین وردګ په لاس مو رالیږلی و را ورسېد، دغه لیک پرون ( د جون دویمه) ما په زرمله (زرمت) کې تر لاسه کړ. زه په دې ډېر خوښ شوم چې ستاسې له ښو او د یادونې وړ کړو وړو څخه خبرېږم. غواړم دا څو ټکي چې حقایق دي په لاندې ډول درته وړاندې او ولیکم:

کله چې زه له تاسې څخه په میدان کې په دې خاطر چې غازیان راټول کړم بېل شوم، په ډار او وېرې سره له هماغه ځایه له دې کبله چې د غزني په لور سخته جګړه روانه وه کورته ورسېدم. د غازیانو خبره پاتې شوه. ځکه کله چې په هفت آسیا کې موږ ته خبر راورسېد، چې د فرنګیانو پوځ سپینډې ته رارسېدلی دی دا خبره دهغو خلکو لپاره چې له موږ سره وو د یو لوی خطر د زنګ په شان وه، دوی ټول په دې لټه کې شول چې نور نو څه نه دي ورپاتې، ځکه یې خپلې ټولې کورنۍ له کلیو څخه د غرونو په لور وکوچولې او هلته خوندي شوې. ما په شپه کې خپل سفر خروار ته تر سره کړ د خروار له پوځ سره رامک او رباط ته راواوښتم. خو مجاهدین یو ځل بیا په شالېز او انزو (ارزو) کې سره پټ او تیټ شول. خو له دې سره هم کله چې ما بیا غازیان راغونډ کړل، د هغوی او زما هغه یرغل چې په غزني کې مو پر فرنګیانو باندې ترسره کړ، له ماتې سره مخامخ شو، خو کوم څه چې په نتیجه کې ولېدل شول هغه دا وو چې انګرېزان هم هلته د ټېنګې نه وو او له هغه ځایه یې حرکت وکړ. ما دوی وڅارل او ورپسې شوم، خو زما ډله او لښکر کافي نه وو، د فرنګیانو دوه لښکر سره یو ځای شول او زما پلانونه یې بې نتېجې کړل. له هغه وروسته بیا اسلامیه سرحداتو (محمدي لارویانو) ته ورغلم، هغوی ته مې لمن وغوړوله او له هغوی څخه مې د هغوي د ملي ویاړ (ننګ افغان) هیله وکړه.

ماله وازې خوا، منګلو، دوړو، ځدرانو، اورګون، برمل، د ګټواز د سلیمانخیلو او د نیمې وچې له پښتنو کوچیانو لکه ناصرو، خروټو، سلیمانخیلو او ټولو مسلمانانو خلکو او قومونو څخه کتنه وکړه او له دوی څخه مې غوښتنه وکړه او ورته ومې ویل چې د جهاد له بهیر سره یو شي او برخه په کې واخلي. دوی ټولو په یوه غږ پلیو او سپرو د پاکو مذهبي ولولو په مېړانې او زوړتیا خپل زمریان د سپېڅلي جهاد په خاطر وسله وال کړل چې نن ( د جون پر دریمه) خروار ته رارسېدونکي دي، د اسلام دغه اتل او قهرمان پوځ چې له شمېره وتلی اوس په ځانګړې پیاوړتیا سره په زرمت، خروار او د تېرې په غابښي کې ځای پر ځای شوي دي. په دغو کې د ترکو او علي خیلو او توخو د ډلو سپرو هم چې د میر احمد خان د زوی شیر احمد خان ترکي او محمد اسلم خان په مشرۍ د غزني له لارې رارسېدلي برخه اخیستې ده. ما د خدای پاک بنده ته د نومیالي او عالیجاه سردار عبدالرحمن او نورو له خوا لیکونه رارسېدلي دي، چې له هغوی څخه یو هم ستاسې لیک دی. ستاسې ویاړلو او خدای پالونکو چې دادی ځواب یې ستاسې په لور ستاسې سره د تفاهم په خاطر در استول کیږي، د دغه لیک محتویات به تاسې په ټولو مسایلو باندې پوه کړي، فرنګیانو له سردار څخه د شلو ورځو وخت غوښتنه کړې چې د هغې مودې زیاته برخه اوس تېره شوې، یوازې دولس ورځې یې پاته دي، د دغې مودې په ترڅ کې کېدلای شي د اسلامي پوځ د راغونډولو په برخه کې نورې هلې ځلې هم وشي. په دغه ترڅ کې موږ باید د اسلام د بري او پیاوړتیا په خاطر ګامونه اوچت کړو. د دغه لیک په در رسېدو سره تاسې په هر ممکن ډول چې کیږي بې له ځنډه خپلو خلکو ته خبرداری ورکړئ څو دوی باید د دې لپاره تیاري ولري چې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يو بدلون راروان دی. دم ګړۍ زه د پاک الله بنده د سليمان خيلو او د وردګو د پليو سرتېرو او مجاهدينو په ملتيا د ميدان په لور درخوځېږم، چې له هغه ځايه به بيا ټول د کابل په لور مخ په وړاندې له کوهستانيانو سره يو ځای په يو وخت کې حرکت وروکړو. که د خدای رضا وه تر هغو به سردار عبدالرحمن هم راشي. داخبره ډېره مهمه او ضروري ده چې ستاسې خلک بايد د تيارسۍ په حال کې وي، ټولو (کلهم) خلکو ته دا خبرداری ورکړئ چې زه به له لکونو مجاهدينو سره درورسېږم. نور نو ټول شيان سم دي».
د دې ليک په عظمت باندې سړی په اسانۍ پوهېدی شي او هم ورباندې قضاوت کولای شي. ډاکټر خالق رشيد وايي: ډېر ليکوالان او د نظر خاوندان د محمد جانخان او ملادين محمد ( ملامشک عالم) پر همدغه صداقت او وفادارۍ باندې د انتقاد ګوته ږدي. چې ګواکي دوی د دې توان درلود چې د هېواد واګې يې په خپل لاس کې نيولې وای او د کوچني موسی جان په اميد بايد نه وای پاتې شوې...
د ورته کسانو نظر ځکه سم نه دی ځکه دوی تاريخي اسناد او د زماني شرايط سم نه دي تحليل کړي او هوايي غږېږي او قضاوت کوي. د سلطنتي کورنۍ په ټول ملک کې په يو څه توپير اثر او رسوخ زيات و او په بل چا راټولېدل د هغه وخت په شرايطو کې ممکن نه و. محمد جانخان د يوه مجرب جنرال په توګه دا هرڅه په سترګو ليدل او ما ما يې (مستوفي حبيب الله خان) د ژرندې د دوو پلو په منځ کې سياست کاوه او ټولې مسئلې ورته ښکاره وې. دوی ته د افغانستان د هغه وخت ټولنيز حالت او سياسي اوضاع او د سلطنتي کورنۍ اړيکې او هر څه مالوم وو او نه يې غوښتل چې کوم احساساتي عمل وکړي. دا هم ښکاره وه چې عبد الرحمن خان ته روسانو او انګرېزانو دواړو سر ښورولی و او د غازيانو تمه داوه چې هغه به له خپل ملت سره ودرېږي.
د غازي محمد جانخان ژوند د ازادۍ د لارې د نورو مجاهدينو په څېر تر خاورو لاندې پټ پاتې دی. تر زيات وخته خو چا د هغه په هکله د حق ويلو موکه نه ده موندلې او يا يې د واکمنانو له ډاره دغه حق نه دی ادا کړئ. په دغه ليک کې په ډاګه ګورو چې دی د عبد الرحمن خان لپاره هيله من دی. انګرېزان وايي چې د ځينو نورو په څېر عبد الحمن خان ده ته هم ليک استولی و او کابل ته د ورتګ لپاره يې مرستې ته اړتيا لرله او د غازي له خوا هم ډاډ ورسېدلی و او ځکه يې افغانستان ته رامخه کړه.
د محمد جانخان او عبد الرحمن خان ترمنځ توپير او مخالفت هغه وخت راڅرګند شو چې عبدالرحمن خان له چارېکارو څخه کابل ته د محمد جانخان او مجاهدينو پر ځای انګرېزانو بدرګه کړ. محمد جانخان او انګرېزانو ښه سره پېژندل. انګرېزانو دا چالاکي وکړه چې عبد الرحمن خان يې د اصلي مجاهدينو له دايرې څخه په دغه حساس او نازک پړاو کې لرې وساته او ګريفن د خپل دولت په استازيتوب د ده هغو ټولو غوښتنو ته سر وښوراوه چې ده ورته اړتيا درلوده او هغوی له ده څخه درلودې.
د غازي محمد جانخان په استوريي شخصيت کې د نوموتو ملي افغان شخصيتونو ټولې نښې نښانې شته، له هغه ځان هېر و او يوازې د وطن د ازادۍ، ملي يووالي او د استعمارګرانو د شړلو فکر ورسره و.
محمد جانخان په داسې يوه تاريخي وخت کې سر راپورته کړ چې له يوې خوا کينه ناک او څو ځله مات شوي انګرېزان پر افغانستان د غچ اخيستلو په موخه راوبلوسېدل او کابل يې د انتقام او غچ اخيستنې په نامه په خپلو منګولو کې ونيو او له بلې خوا په کورنۍ کچه د داسې يو بدمرغه چاپېريال رامخه شوې وه چې شهزادګانو له ځانونو د واورو داسې ليوان جوړ کړي و چې ظاهرا له نظره نه لېودل او په باطن کې دوی وو چې په خپلو ټولو پخوانيو وياړنو او اتلوليو يې د بطلان کرښې په شعوري توګه د ځاني ګټو په خاطر را ايستې او د يرغلګرو په وړاندې يې په ناځوانۍ سره د تسليمۍ او پښېمانۍ توبې ايستلې.
محمد جانخان سربېره پردې چې په اسلامي علومو او حديث کې د مطالعې خاوند و، ده د خپل هېواد او خلکو د وياړن تاريخ په اړه ژوره مطالعه درلوده، په دغه ليک کې چې وړاندې کېږي او د ملاخيل او محمد صادق خان په نامه يې استولی دی، تاسو د دغه وياړلي انسان تاريخپوهنه او زموږ له تېر وخت خورا دقيقه خبرتيا په روښانه توګه محسوسولای شئ: « د الله پاک په مرسته موږ پر انګرېزي پوځ بده ورځ راوستې ده. د انګرېز پوځونو په بې انصافۍ او ظلم پر غزني يرغل وکړ. خو موږ دوی مات او تېښتې ته مو ناچار کړل. همدارنګه موږ په چارآسياب کې هم مېړانه او بری د ځان کړ. عبدالرحمن خان هم د انګرېز حکومت د برلاسۍ په وړاندې سرخوږی راپيدا کړی دی. په هر ډول موږ اوس د بارکزيو په باره کې فکر نه کوو. څه چې زموږ لپاره د پاملرنې او فکر کولو وړ دي دادي چې موږ خپل سرونه د اسلام په لار کې په خپلو لاسونو کې نيولي دي.
محمد حسن خان د جهار اسياب په جګړه کې داسې مېړانه وکړه چې موږ يې خوشاله او وېنځولو... محمد حسن خان مو له دوو پليو غونډونو او زرو سپرو سره ننګرهار ته واستاوه... په تاسو هم غږ کوو چې دغه ليک د سوات او نورو علاقو په اوسېدونکو وويشئ او ټول مسلمانان د جهاد لپاره بايد تيار شي... د کوهدامن او کوهستان استوګن هم د جګړې لپاره تياري نيسي، که تاسو وسلو ته اړياست موږ ته خبر راکړئ. تاسې بايد دا در په ياد کړئ، چې احمد شاه غازي اووه ځله د هند په لوري له دولس زرو کسانو سره وخوځېد او دغه هېواد يې تابع کړ. په داسې حال کې زموږ شمېر اوس شلو لکو ته رسېږي، هغه په داسې حال کې چې د يوه مذهب او يوې عقيدې خاوندان وروڼه هم يو. دا به ډېره د افسوس خبره وي چې ډارن انګرېزي هنديان د خراسان د لټې د نيولو فکر وکړي... لکه چې د شرعې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پیروانو ویلي: « یهود او نصارا له منځه یوسئ، د دغه امر اطاعت وکړئ او د اسلام توري مو له تېکي راوباسئ.
دغه خبرتیا موږ تاسي ته د مذهبي لاربنوونو پر بنسټ درولېږله.» ( د هند ملي ارشیف، بهرنی څانګه لیک (۹۵) ۱۸۸۰ مې.)
دلته د هند له ملي ارشیفه بیا ښاغلي ډاکټر صاحب رشید د غازي محمد جانخان هغه لیک رانقلوي چي ده جنرال رابرتس د انګرېزي قواوو مشر ته په افغانستان د هغه د لیک په ځواب کي استولی دی. کتونکي او څېړونکی د غازي له دې او نورو لیکونو د ده درایت، صداقت او ربښتیني اتلولي په ګوته کوي:
« غزنی – د جنرال محمد جان له خوا د جنرال اف. اس. رابرتس ته!
ماستاسي هغه لیک تر لاسه کړ، چي تاسي د عبدالرحیم اخونزاده په لاس را استولی و. هغه مي ولوست او په هرڅه یې ورسېدم. تاسي ماته وړاندېز کړی و، چي زه باید تاته درشم، او تا ډاډ ځرګند کړی و چي انګرېز سرکار به پرما مهرباني وکړي او ما به ونازوي. زه کولای شم ووایم او تاسي هم خپله ښه پوهېږئ چي زموږ مسلمانانو (افغانانو) حکومت پخواهم له انګرېزانو سره دښمني نه درلوده، ان هغه مهال چي زموږ اعلیحضرت د حکومت ټولواک و پخپله یې د بریتانوي حکومت سره دوستي ټرون لاسلیک کړ، او موږ له یوه بل سره ملګري شو. خو برېتانوي حکومت بیا د درواغجنو کسانو په لاره لاړ او د هغوی خبرې یې واورېدي چي دغه کار او دغه چال چلند د دواړو لوریو تر منځ د ملګرتوب اصول په توپیرونو باندې واړول، دغه مسلمان ولس یې ځانته دښمن کړ او خبره پارېدنو او جګړو ته ورسېده لکه چي تاسو ته هم ښه معلومه شوې.
که چېرې بریتانوي حکومت یو ځل بیا په خپله پخوانی لاره ګام کېږدي، او وغواړي چي د خدای له دغو بندګانو سره خواخوږي ګام اوچت کړي، امیر راخوشی کړي او ولیعهد ته درناوی وکړي. په دغه ترڅ کي به د افغانستان د خلکو او انګرېزي سرکار تر منځ هېڅ ډول دښمني نه وي. او څرګنده ده چي ټول افغان دولت به د انګرېزي حکومت سره د یوه دایمي دوست په توګه پاتي شي. ټول مسلمانان لکه وزیر، سلیمانخیل، ترکی، علي خیل، توخي، اندړ، وردګ، تاجکان، زرمتیان، څرخیان، خرواریان، د لوګر، میدان، کوهستان، او د غزني ولسونه د ولیعهد ملاتړ او درناوی کوي او دایې سره منلې چي د هغه له پاره به ټول هغه پخوانی حیثیت او برم بېرته اعاده کوي. ځکه نو دوی هغه د خپل واکمن په توګه منلی دی. د همدغي لیوالتیا پربنسټ د دوي هیله داده چي انګرېزي حکومت مهرباني وکړي امیر راخوشی کړي او په عین حال کي د ولیعهد سره هم له مهربانی څخه کار واخلي. له دغه پرته دوی وایي چي دوی به خواشیني شي او دوی به خپل تقدیر له خپل ولیعهد سره غوټه کړي او هغو دولتونو ته به ورسره ولاړ شي له چا څخه چي دوی بلنه تر لاسه کړې ده. خو دا به د انګرېز حکومت لپاره د افسوس خبره وي چي که دوی ونه شي کولای دغه میرني قومونه خپل ملګري کړي، وایي دغه کار یوازې او یوازې هغه وخت کېدونکی دی چي دوی امیر راخوشی کړي او دهغه ځای ناستي ته درناوی وکړي». ( د همد ملي ارشیف، بهرنی څانګه، لیک (۱۹) ۱۸۸۰ فبروري).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ